مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۱/۱۲/۰۴

# اغزي مه کره!

د رحمان بابا (سوزان شعرونه) مې لوستل. د هغه ديوان مې سترګو ته نيولی و. له هر بيت او هر غزل نه يې د انسان دوستۍ رنګونه را توييدل. ديوان يې تول د انسان پالنې په عطرونو خوشبويه و. له هر بيت نه مې جلا خوند اخيسته، د ده هر اړخيز او لوړ پيغامونه مې ذهن ته سپارل او د ده په ( عالمګيريت) مې د تاييد مهر لګاوه.

پاڼه مې واړوله، رحمان بابا د خولې خبره وه، هغه ويلي و:

«ادمزاد په معنا واړه يو صورت دی
هر چې بـل ازاروي هغه ازار شي.»

کتاب مې بند کړ، شاوخوا مې وکتل، حيران شوم، ما ويل که بابا سهوه شوی.ډول ډول پوښتني راته پيدا شوې: ادمزاد څنګه يو صورت دی؟ ښه که يو صورت وي، نو بيا ولې ځانونه وژني؟ ځکه د بل وژل د خپل صورت وژل دي. بيا مې خپله چار چاپيره سيمه له نظره تيره کړه:

هلته يو انسان بل ته د توپک شپيلۍ نيولې وه، لړ ورانديې يوه د بل پر مرۍ چاړه راښکله، اخوا له هوا نه انسان په نورو انسانانو سکروټې را اورولې او له هرې سکروټې سره، بدنونه لولپه کيدل.

غلی شوم، ما ويل کيدای شي د رحمان بابا د دور انسانان به يو صورت ول، هغه وخت به خلکو په نورو خولې نه لګولې او هغه وخت به....

بيرته مې کتاب پرانيست. د بابا هغه بيت مې ولوست چې ځانته يې خطاب کړی و. دې بيت نور هم حيران کړم. بابا ويلي و:

«واړه د خپـل ځان په نظر ګوره که دانا يې
ای عبدالرحمانه جهان ټول عبدالرحمان دی»

بيا مې کتاب بند کړ، سترګې مې وغړولې:

دلته خو هيچا هم نورو ته د ځان په سترګه نه کتل. دلته خو هر چاته خپل ممنوعه د سر قاتل ښکاريده او دلته خو هر انسان بل پسې چاړه راخيستې وه. دلته خو تولې هڅې د دې لپاره وې چې (عبدالرحمان) ختم کړي، د خدای ج دغه حسين مخلوق له منځه يوسي او...

خو د بابا شرط مې وسوسه ختمه کړه، هغه د دې لپاره يو شرط هم ايښی و او هغه شرط دادی: (که دانا يې) خپل ممنوعه راته ټول نادان ښکاره شو. د يو بل وژنو اصلي لامل راته ناداني ښکاره شوه، خو دا داسې خطرناکه ناداني ده چې بيرته (دانا) کول يې سخت دي او حتی ناشونې ښکاري. اوس په نړيواله کچه د انسان وژنې ماشينونه چالان دي، ورځ په ورځ هيوادونه په اتومي طاقتونو بدليږي او څوک چې په دومره لګښتونو او ستونزو اتوم جوړوي، نو په موزيم کې يې نه ساتي، د کاروني وخت ته يې په تمه دي او دا کاروني به د بې شمېره انسانانو په نابودۍ تماميږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ما همداسي کله ديوان کوټ او کله مې شاوخوا سيمه، يو بل بيت ته ورسيدم. دې بيت حيران کړم او ځان سره مې ويل: ښه ده چې رحمان بابا اوس ژوندی نه دی. ښه ده چې دغه نرم دله شخصيت اوس نشته او ښه ده چې دغه ملنګ شاعر زموږ حالات نه ويني، کنه هغه خو به لويه ګناه کړې وه، هغه به دا حالات نه و زغملي او له ډېره غمه به د خودکشی د ګناه مرتکب شوی و.

بابا، ويلی و:

## «اغزي مکره په ښپو کې به دې...»

له دې سره مې سترګې ډکې شوې او بې اختياره رانه چيغه پورته شوه او په چيغو کې بابا ته مخاطب شوم:

های، بابا!

ته دې ته ځوريدې چې د چا په پښه کې اغزي لاړ نشي، تا د خدای ج پر ښکلي مخلوق (حضرت انسان) د اغزي درد هم نشو زغملی، تاته دا يوه دردناکه خبره ښکاريده چې د انسان په پښه کې دې اغزی چخ شي، هغه دې وه درديږي او د هغه له پښې دې کوم څاڅکی وينه تويه شي.

بابا!

له لحد نه سر پورته کړه! راشه! زما کندهار، زما هلمند،زما ننګرهار،زما لغمان،زما کونړ، زماغزني... او زما ټول وطن وګوره! دلته له خلکو پښې پرې کيږي. دلته ميندې د خپلو اولادونو په پښو پرې کيدو راضي دي، هغوی شکرونه باسي او ځانونه په دې ډاډه کوي: خدای فضل وکړ، د زوی مې دواړه پښې پرې دي، خو شکر دی ژوندی پاتې شو.

های بابا! دلته اوس د چا پښو کې اغزي نه ځي، زموږ د خلکو پښې پلاستيکي دي، په هغو کې اغزي کار نه کوي.

بابا! تا خلک له اغزيو کرلو منع کول، خو ته خبر يې؟ اوس خلک په سرکونو او لارو کې ماينونه کري، دا ماينونه هره ورځ د هغه مخلوق بدنونه ټوټه ټوټه کوي چې ستا پرې د يوه اغزي درد هم نه لوريده.

بابا! ستا لمسيان اوس پښې نلري،ستا واړه لمسيان لکه کبان پر سينه حرکت کوي،دوی له اغزيو نه ويريږي. بابا! ته خبر يې؟ دلته ميرمنې او ځواني نجونې د خوښيو په مراسمو کې  په پښو او لاسونو نکريزې نږدي. دوی پوهيږي چې لاره کې پرې ماين الوځي او دوی دومره په وينو لړې چې د نکريزو رنګ په کې نه ښکاري.

بابا! هغه انسان چې تا خپل ځان ګڼلی و، هغه ستا نصيحت ته غوږ کينښود، چا (سيمه ګلزار) نکړه.

بابا!  دلته چې کومه سرخي ده، هغه د ګلونو نه ده، د وينو ده. دلته چې سره – سره څه ښکاري، هغه ګلونه نه دي، غوښ شوي هډونه دي.

بابا! زموږ د دور انسان د وينو ډير تږی دی. د خپلې تندې د خړوب لپاره هره ورځ د خپلو  همنوعانو وينه بهوي، خدای خبر، دا تنده به کله خړوب شي؟ زموږ د هيوادوالو وينې به ورته کفايت وکړي او کنه!؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو  همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ